مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولـی ناروغ

۲۰۲۱/۰۳/۰۱

# جنت، دوزخ...!؟

کـابل دوزخ لنـدن جـنت دی گلـــي
پـه سـور قـلم لیـکلی بخـت دی گلـي

لــه دوزخـي کـابلـــه کــډه بار کړه
هســي تش جــام د شـــهادت دی گلي

دلـــته شــیاد دی آســماني حـکمران
برلـین له میـــني ډک نعمت دی گلي

کــــابل جـهاد کـړ راتـه دړي وړي
مـسکو د خدای لوی امـارت دی گلـي

استـرداد کېنـي بــه لـوگی شي در ته
د ړنــــگو بنـگو سـخـاوت دی گلـي

دلـــته کابل کـي مــلایان کـړي ذلت
پاریس کی ژوند یـو کرامت دی گلي

دلـته کابل کـي عمر تـیر پــه امـید
یوروپ کي ژوند یـو حلاوت دی گلي

لـه خــپلـه خــدایـه پـوروړی نشــي
ژونـــد پـه مچیو کی شربت دی گلي

ولـی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ